# د راي ورکوونکود نوم لیکني د مرکزونو دزیاتوالي کړنلاره

د غه کړندود ټاکنو د قانون د ۵۶ مادي له په پام کې نیولو سره د دراې ورکوونکو د نوم لیکنې په خاطر د مناسبو شرایطو د برابرولو په موخه تدوین شوی دی.

**لومړی ماده :**

له هغه ځایه چې د خلکو امنیتي ، اقلیمي، ټولنیز او اقتصادي حالات او احوال عادي حالت ونه لري او یو شمېر په شرایطو برابر افراد دنوم لیکنې ټاکل شویو مرکزونوته د لاسرسی امکانات نه لري ، د ټاکنو خپلواک کمیسیون تصمیم ونیوه چې له ببلابیلو لارو څخه د رای ورکوونکو د نوم لیکنې په خاطر آسانتیاوې برابرې کړي.

**دویمه ماده :**

په هغو سیمو کې چې پولیس او امنیتي ارګانونه وکړای شي د ټاکنو د کارکوونکو او د نوم لیکنې د مرکزونو د امنیت په تامینولو کې لازمه همکاري وکړي کمیسیون د اړتیا له مخې د نوم لیکنې د مرکزونو شمېر زیاتوي . د اړتیا او د خنډونو د نشتوالي په صورت کې کمیسیون کولې شي د رای ورکوونکو د نوم لیکنې په موخه ګرځنده اضافي مرکزونه پرانیزي .

**دریمه ماده :**

په هغو ولایتونو او ولسوالیو کې چې په پوره اندازه د پولیسو افراد او امنیتي پوځونه موجود نه وي ، کمیسیون کولې شي د اړتیا او د د زیاتو خلکو د غوښتنې په صو رت کې د نوم لیکنې د مرکزونو شمېر زیات کړي . په داسې مواردو کې باید لاندیني شرایط په پام کې ونیول شي :
الف- د ټاکنو د کارکوونکو او د نوم لیکنې په بهیر پورې اړوندو وسایلو ته دبالقوه او با الفعل ګواښ په باب باید امنیتي ستونزه نه وي .
ب – د وکیلانو، عالمانو او سپین ږیرو په ګډون د قوم مشران باید تضمین وکړي چې د ټاکنو کارکوونکو او ټاکنیزو وسایلو ته به کوم ګواښ نه وي .
ج - د مشرانو ضمانت دې په اړوند ولایت کې د والي ، ولسوال ، امنیه قوماندان او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د استازې له خوا تا یید شي .( د ژمن لیک د رسمیت پېژندلو په موخه د قوم د مشرانو ، والي، ولسوال ، امنیه قوماندان او د ټاکنو د کمیسیون د استازې لاسلیک ضروري کار دئ.)
ه – ژمن لیک له یوې تر دربو ورځو په بهیر کې د ټاکنو دخپلواک کمیسیون مرکزي دفتر ته لیږدول کیږي
و – د ژمن لیک بیلګه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په رسمي فورمه کې چې د کمیسیون نښان او علامه لري برابره او ولایتي نماینده ګیو په واک کې ورکول کیږي .

**څلورمه ماده :**

که چېرې په دریمه ماده کې لیکل شوي شرایط په پام کې ونه نیول شي کمیسیو ن نه شي کولې له دقیقو امنیتي تدبیرونو پرته د مرکزونو شمېر زیات کړي .

**پنځمه ماده :**

له هغه ځایه چې په هر ولایت کې شرایط توپیر لري د هر ولایت ځانګړتیاوې سیمه ییز چاوراکي ښه درک کولې شي د نوم لیکنې د مرکزونو د زیاتوالي په اړه د ولایتي چارواکو نظر لازم شمېرل کیږي .

**<u>شپږمه ماده :</u>**

له مخکې نه ټاکل شوي مرکزونه ددې کړندود تا بع نه ګرځي ، ددې کړندود له تصویب ورسته له مخکې څخه ټاکل شویو نوم لیکنې دمرکزونو د بدلون په اړه فردي او ډله ییز سپارښتونه ، غوښتنلیکونه او شفاهي وړاندیزونه د منلو وړ نه دي د ټاکنو چارواکي نه شي کولې هغه ترتیب کړي .

**<u>اوومه ماده :</u>**

دغه کړنلاره دتصو یب له نېټي وروسته نافذه او خپرېږ ي.